کله چه نظر په بد نظر شم پائې پائې شم
زه ډېره معصو مه پـاك لمنه با حيـا يمه
شين بستر دپاڼو کښې اوڅانگوسره غېږپه‌غېږ
زه پرته په غېږ کښې د مجنون‌لکه‌ليلايمه
مخ نه‌مې طواف‌کوی نسيم‌ترصباژن پورې
ناڅې راته ستوری د سپوږمی په تماشايمه
زړه‌مې‌د(فنا) پشان‌زخمی‌زخمی په‌وينورنگ
مه‌غولېږئ خلکو که ظاهره په خندا يمه

# اغزی

بنه خوراك يم د‌ااوبنانو په صحرا کښې
قافلې سره د ناز نعمت کاروان يم
زه گل نه يم چه بلبل پرمامين شی
د خنجر غوندې تېره‌بڼو پشان يم
بېوفا حسن مې نشته چه شم مړاوی
نه پابند د پسرلی نه د خزان يم
کله‌کله اوبه شوی يم په وينو
بنه رنگين او تازه گل د بيابان يم
د شهيد زخم کفن گنڼم بېد يا کښې
هم د گل بلبل دمينې ترجمان يم
زه د گل آب وحيا ساتم په بن کښې
تېره توره مې‌په‌لاس بنه نگهبان يم
ځگر خون شم چه په‌لوڅو پښو چو خېږم
د پرخون لاس بنکلولو په ارمان يم
د دې خاورې سره مينه لرم زياته
(فنا) سترگو د دښمن کښې مغيلان يم

زما لاسونو پښو کښې د پراغزي دي تللي
د پراغزي ما په اغزيو دي اېستلي
بارانو نو د پرژړ لي دي صحرا کښې
ما څو ځان اغزي رېبلي دي بېديا کښې
چه ياد پېږي مې د اوچ او شاړ د اګونه
د غا ټول پښان مې زړه لړي داغونه
د خوښي سروغمونه شته هر ځاي کښې
هم خندا ځانته ژړا لري په پاي کښې
د آبشار و فوارو فريا د ژړا ده
د غوټي د خوښي ژوند يوه خندا ده
ماليدلي دي رنګين ښايسته ګلونه
د خوبا نو په اور بل ټېر لاسونه
مستي پېغلي ګرځېدې به په هر بڼ کښې
مينا ن به غېږ په غېږ و په چمن کښې
ګلولاندې به وېدې وې نجوني ځواني
په سينو به يې د پرې د ګلو پاڼي
اندامونه مې څنا رغوندې لړز پېږي
د شبنم په څېر مې او ښکي راتوېږي
ضعيف شوي نور دستر ګو کم مې زور دی
په څراغ د زړه کښې بل دمېني اور دی
د سپين ګل پشان مې زيړه شوله سپينه
څو څو انېږي زما پس ته پس تمينه
پسرلي کښې (فنا) شين بڼ او بوستان دی
پرما و اوره اوري عمر مې خزان دی

